# په لغمان ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

دوشنبه ۱۴۰۴/۸/۱۹ - ۱۴:۱۸




د لغمان ولایت ښاري ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته چې پر لواطت متهم وو؛ په ۱۸/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.
ابتدائیه محکمې یاد کسان پر ۳۹ـ ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي

مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.
په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو رئیسانو، قضائي غړو، اداري کارکوونکو، مراجعینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.